# رحمۃ اللہ علیہ
# د اعلیٰ حضرت

صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلم
# شاعري او عشقِ رسول

**24-October-2019**





هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے
د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د اعلیٰ حضرت شاعري او عشقِ رسول

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، او یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښې ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاویٰ شامی**" کښې دي: که څوك جُمات کښې خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د دُرُود شریف فضیلت

د حضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: د **الله** تعالیٰ د پاره خپل مینځ کښے مَحبَّت کوونکي چه کله ملاقات اوکړي او مُصافَحه اوکړي (یعني لاس

مِلاو کړي) او نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندے دُرُودِ پاك اولیږي نو د هغوئي د جُدا کیدو نه مخکښے د دواړو تیر شوي او راروان ګُناهونه اُوبخښلے شي. (مسند ابی یعلی، ۹۵/۳، حدیث:۲۹۵۱)

کعبے کے بدر الدُّجیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود طیبہ کے شمسُ الضُّحیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود

(حدائقِ بخشش، ص۲۶۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن د **صَفَرُالْمُظَفَّر** پینځه ویشتمه شپه ده او په پینځه ویشتم **صَفَرُالْمُظَفَّر** د اعلیٰ حضرت، امام اَهلِسُنَّت عاشقِ رسول شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیۡہ عرس لمَانځلے کیږي، د دعوتِ اسلامي ماحول کښے په دے با بَرَکته موقع باندے باقاعده د یومِ رضا اِجتِماع مُنعَقِد کیږي چه په هغے کښے د ختمِ قرآن، نعت خوانئ او په سِیرتِ اعلیٰ حضرت باندے د مشتملو بیانونو سلسله کیږي، ولے چه سخ کال [یعني دا کال] یومِ رضا اِجتِماع د جُمعے په شپه ده او د **دعوتِ اسلامي** هفته واره اِجتِماع هُم په اکثرو ښارونو کښے د جُمعے په شپه وي ځکه دا ځل په ټول مُلك کښے اِجتِماعِ یومِ رضا او هفته واره اِجتِماع یو ځائے کیږي.

راځئ چه د ټولو نه مخکښے د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د سِیرت څه مُختصر تعارُف واورو، چنانچه ۞ **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په **10 شَوَّالُ الْمُکَرَّم** د خیالي په ورځ پیدا شو ۞ **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ تقریباً د څلورو کالو په عُمر کښے قرآنِ پاك په ناظِره ختم کړو او په هُم دغه عُمر کښے ئے په فَصِیح (یعني خالصه) عربي ژبه کښے خبرے اوکړے ۞ **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ تقریباً د شپږو کالو په عُمر کښے وړومبے بیان اوکړو ۞ **اعلیٰ**

**حضرت** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د 13 کالو 10 میاشتو او 4 ورځو په عُمر کښے د عُلُومِ دَرسِیه نه فَراغَت حاصل کړو، دَستارِ فضیلت ئے اوشو، په هُم هغه ورځ ئے د فَتویٰ لیکلو باقاعِده آغاز اوکړو او درس و تدرِیس ئے هُم شروع کړو. ۞ تقریباً د 19 کالو په عُمر کښے ئے سُنَّتِ نکاح ادا شو ۞ **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ تقریباً د 23 کالو په عُمر کښے وړومبے ځل او تقریباً د یو پنځوسو کالو په عُمر کښے دویم ځل د زیارتِ حَرَمَین شریف شرف حاصل کړو ۞ **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ تقریباً د 68 کالو په عُمر کښے آخري وصیتونه اولیکل او آخر دا چه دا عظیم عالمِ دِین و عالِـمِ فُنون په 25 **صَفَرُالۡمُظَفَّر** 1340ھ، بمطابق 28 اکتوبر 1921ء د **جمعۃُ المبارک** په ورځ رسا د جُمعے د اذان په وخت کښے تقریباً د 68 کالو په عُمر کښے وفات شو. (ماخوذ از حیاتِ اعلیٰ حضرت، جهانِ رضا، سوانحِ امام احمد رضا، تجلیاتِ امام احمد رضا، تذکرۂ امام احمد رضا)

**الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی دِ په هغوئي کروړونه رحمتونه نازل کړي او **الله** پاك دِ د هغوئي په خاطر زمونړه بے حسابه بخښنه اوکړي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په دے کښے هیڅ شك نشته چه اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِ تعالٰی عَلَیۡہ د خپل وخت ډیر لوئي عاشقِ رسول وو. د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِ تعالٰی عَلَیۡہ پوره ژوند په عشقِ رسول کښے تیر شوے وو. هغوئي به چه خبرے کولے نو د هغوئي د خبرو سره به د خلقو په زړونو کښے عشقِ رسول زیاتیدلو، او چه قلم به ئے راواغستلو نو د لیك په په ذریعه به ئے عشقِ رسول تقسیمولو، یعني د هغوئي د ژوند یو یو ساعت د عشقِ رسول په خوړولو کښے تیر شوے دے. د هغوئي د شاعرۍ نه د عشقِ رسول صحیح اندازه کیږي.

هسے خو اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د ډیرو خُصُوصیاتوماالِك وو خو خاص خبره دا ده چه د هغوئي ډیر شعرونه د قرآنِ پاك تفسیري معنو او اَحادِیثو طرف ته اِشاره کوي، لکه قرآن او حدیث کښے چه د خوږ مکّی مَدَنی آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان بیان شوے دے هغه د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د ډیرو شعرونو نه واضحه کیږي. څنګه چه یو ځائے کښے فرمائي:

مومن ہوں مومنوں پہ رؤفٌ رحیم ہو سائل ہوں سائلوں کو خوشی لَانَہَر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص۲۱۲)

[یعني یارَسُولَ الله زه مُؤمِن یم او تاسو په مُؤمِنانو ډیر زیات مهربانه ئے، او زه ستاسو د دَر سوالي یم او سوالګر په لَانَہَر خوشحاله دي.]

په دے شعر کښے د قرآنِ کریم دے آیت ته اشاره ده.

وَ اَمَّا السَّآىِٕلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ﴿۱۰﴾ (پ۳۰، الضحی:۱۰)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او سوالګر مه رټه.

سیّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یو بل ځائے اِرشاد فرمائي:

مجرم بُلائے آئے ہیں جَآءُوۡكَ ہے گواہ پھر رد ہو کب یہ شان کریموں کے در کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص۲۰۵)

په دے شعر کښے د قرآنِ پاك دے آیتِ مُبارکه طرف ته اشاره ده:

وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۶۴﴾ (پ۵،النساء:۶۴)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او که هغوئي په خپلو ځانونو ظُلم اوکړي، نو اے محبوب! ستاسو په دربار کے حاضر شي او بیا د الله نه مُعافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اُوفرمائي نو ضرور به **الله** ډیر توبه قبول کوونکے مهربانه اُوموmي.

هُم دغسے سیِّدي اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ عَلَیْه یو بل ځائے فرمائي:

رَبّ ہے مُعطِی، یہ ہیں قاسم رِزْق اُس کا ہے، کِھلاتے یہ ہیں

(الاستمداد، ص۶)

په دے کښے د هغه حدیثِ پاك طرف ته اشاره ده چه په هغے کښے رسولِ پاك صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللّٰهُ الْمُعْطِی** یعني ورکوونکے الله دے او تقسیموونکے زه یم. (بخاری، کتاب الاعتصام، باب قول النبی لاتزال طائفة، ۴/۵۱۱، حدیث:۷۳۱۱)

د دے نه معلومه شوه چه د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ عَلَیْه کلام د قرآن و حدیث مطابق دے او په دے کښے هم شك نشته چه د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ عَلَیْه لیکلے شوے یو یو نعت په فنِ شاعرئ کښے هم کمال درجه لري او په هغے کښے د عشقِ رسول د اظهار زبردست مواد هُم موجود دے. څنګه چه د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ تعالیٰ عَلَیْه په یو یو رګ کښے عشق رسول موجود وو هُم دغه شان د هغوئي د نعتیه شاعرئ یو یو لفظ د عشقِ رسول نه ډك دے. د هغوئي عشقِ رسول هغه اوچتے درجے ته رسیدلے وو چه نن د سلو کالو تیریدلو باوُجود هم که د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ تعالیٰ عَلَیْه لیکلي شوي شعرونه لوستلے یا اوریدلے کیږي نو

د هغے په ذریعه په زړونو کښے د عشقِ رسول جذبه نوره زیاتیدل محسوسیږي. او بے اختیاره د اوریدونکو په ژبه سُبْحَانَ الله سُبْحَانَ الله جاري شي. د نن د بیان موضوع هم "د اعلٰی حضرت شاعري او عشقِ رسول" ده. الله دِ اوکړي چه مونږ ته ټول بیان په غور سره د اوریدلو سعادت را نصیب شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!        صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چه اول یو حکایت واورو:

## د مالدارو ستائنه ولے اوکړم؟

یو ځل د ریاست نان پاره (ضلع بهرائچ یُو پِی هِند) د نواب په صِفَت کښے شاعرانو قصیدے اولیکلے. بعضے کسانو اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِتَعَالٰىعَلَيْه ته عرض اوکړو چه تاسو هم د نواب صاحِب په مدح (یعني صِفَت) کښے یوه قصیده اولیکئ. هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰىعَلَيْه د هغے په جواب کښے یو نعت شریف اولیکلو چه د هغے مَطلَع یعني وړوبے شعر دا دے.

وہ کمالِ حسنِ حضور ہے کہ گُمانِ نَقص جہاں نہیں

یہی پھول خار سے دور ہے یہی شمع ہے کہ دھواں نہیں

یعني زما د خوږ آقا صَلَّى اللهُتَعَالٰى عَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم ښائست کمال درجے ته رسیدلے دے یعني د هر طرف نه کامل او مکمل دے په هغے کښے څه عیب کیدل خو څه، چه د عیب تصوُّر هم نه شي کیدے.

د دویمے مصرعے مطلب دا دے چه [عام طور] د هر ګُل په څانګه کښے ازغي وي خو د

آمنه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د باغ دا خوشبوداره ګل صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ازغو نه پاك دے. او په هره شمع کښے دا عیب وي چه لوګے کوي خو هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بَزمِ رسالت داسے روښانه شمعَ ده چه د لُوګي یعني د هر قسم عیب نه پاك دے.

او په مَقطَع [یعني آخري شعر] کښے ئے د نان پاره استعمال په ځومره ښکلي انداز کښے کړے دے.

کروں مدح اہلِ دُوَل رضاؔ پڑے اس بلا میں مِری بلا

میں گدا ہوں اپنے کریم کا مِرا دین "پارہ نان" نہیں (حدائقِ بخشش، ص۱۰۹)

یعني اے رضا زه د دولتمندو صفت ولے اوکړم زه خو د خپل آقا کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د در فقیر یم زما دِین "پارهٔ نان" نه دے د "نان" معنٰی ده ډوډئ او د "پاره" معنٰی ده ټُکړه، مطلب دا چه زما دِین "د ډوډئ ټُکړه" نه ده چه زه د مالدارو خوشامدے اوکړم. ـ(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص۱۳۰ ماخوذًا)

الله پاك دِ مونږ ته هُم د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په شان خود داري نصیب کړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!		صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوشامدے نه ځان ساتئ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان شوي حکایت نه معلومه شوه چه **الله** والا د دُنیا والؤ خوشامدے او چاپلوسي نه کوي، ځکه چه د دولتمندو خوشامدے دِ هغه خلق کوي څوك چه د دُنیا د ذلیله دولت حاصلولو حرص لري، او الله والا د قناعت قیمتي دولت لري، د الله والؤ نظر د دولتمندو په فاني مال نه وي بلکه هغوئي د الله په رحمت یقین لري، د الله والؤ زړونه د محبتِ اِلٰهي او محبتِ رسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه

سرشار وي. **ياد ساتئ!** د مالدارو خوشامدے او چاپلوسي کول شرعاً سخت منع دي او د دين د پاره د نقصان باعِث دي. **راځئ چه** د خوشامدے د مُذمّت متعلق دوه حديثونه واورو:

(۱) **خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **ارشاد فرمائي:** کله چه چا قرآن مجيد اولوستلو او **تَفَقُّه فِی الدِّین** ئے حاصل کړو (يعني عالِم جوړ شو) بيا ئے د بادشاه په دروازه د هغه چاپلوسي [يعني خوشامده] اوکړه او (د هغه) د مال په لالچ کښے راغے نو هغه د بادشاه د ګناهونو برابر د دوزخ په اور کښے ننوتلو. (مسند الفردوس، ۲۸۹/۱، حديث:۱۱۳۴)

(۲) خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **مِنْ خُلُقِ الْمُؤْمِنِ التَّمَلُّقُ** يعني مسلمان خوشامدي نه وي. (شعب الايمان، باب في حفظ اللسان، ۲۲۴/۴، حديث: ۴۸۶۳)

**اے عاشقانِ رسول!** معلومه شوه چه مالدارانو سره داسے تعلق ساتل چه د هغے په وجه دين او خود دارئ ته نقصان اورسي دا ښه نه دي، البته د نيکئ دعوت ورکولو د پاره د هغوئي خنګ ته ضرور تلل پکار دي. الله پاك دِ مونږ ټولو ته اِخلاص سره د دِين د خدمت کولو توفيق را کړي. **اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!        صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## عشقِ رسول او د هغے تقاضے

مسلمان اګر که بے عمله وي خو هغه د الله او رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ضرور محبَّت لري، چنانچه علمائے کرام فرمائي: الله پاك او د هغه د رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سره د مَحبَّت او عشق تقاضه او علامت دا دے چه د هغوئي د اِطاعت او فرمانبرداریٔ کارونه اوکړے شي. حضرت سَهْل بن عَبدُ الله رَحْمَةُاللهِ تعالىٰ عَلَيْه فرمائي: الله تعالیٰ سره د مَحبَّت علامت قرآنِ کریم سره مَحبَّت کول دي او قرآنِ کریم سره د محبت علامت د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالىٰ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحبَّت کول دي او د خوږ حبیب صَلَّى اللهُ تَعَالىٰ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت نښه د هغوئي د سُنَّتو سره محبت کول دي او دے ټولو سره د مَحبَّت علامت دا دے چه آخرت سره محبت اوکړے شي او آخرت سره د محبت علامت دا دے چه د ضرورت نه علاوه دُنیا سره بُغض اوساتلے شي. (تفسیر قرطبي،پ۳،آل عمران،تحت الآیة:۳۱،۲/۴۷ملتقطاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د عِشقِ رَسُول نورے تقاضے هُم دي، لکه ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه الله او د هغه رَسُول سره مَحبَّت اوکړے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مبارك کثرت سره اوکړے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادات واوریدے شي او په هغے عمل اوکړے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول تقاضه دا هُم ده** چه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښار، اولاد او صحابه سره هُم مَحبَّت اوکړے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه د هغوئي د هرے ادا سره مَحبَّت اوکړے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه په هغوئي باندے د نازل شوي کتاب قرآنِ مجید تلاوت اوکړے شي، په هغے ځان پوهه کړے شي او په هغے عمل اوکړے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه خپل ټول ژوند په سُنَّتو باندے عمل کولو کښے تیر کړي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه مونږ د خپل خوږ آقا، جنابِ احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سِیرت او کردار باندے

عمل پیرا شو ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه زمونږه یو لـمونځ هُم قضا نه شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه د دروغو او **چُغلۍ** نه ځان اوساتلے شي ۞ **د عِشقِ رَسُول یوه تقاضه دا هُم ده** چه بنده د هر هٔغه کار نه بچ اوسي د څه نه چه خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم منع فرمائیلي دي.

## د سلامِ رضا غږ راتلل

کاش چه مونږ ته هم عِشقِ حقیقي را نصیب شي. په دے کښے هیڅ شك نشته چه کله د چا سره محبت او عشق پیدا شي نو عاشق د خپل زړه د جذباتو اظهار کولو او د خپل محبوب د ستائنے او صِفَت بیانولو د پاره بعضے وخت شعرونه لیکي، ځکه چه د اشعارو په ذریعه د خپل زړه د جذباتو اظهار په ډیره ښه طریقه سره بیانیدے شي. اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ هُم د عشقِ مصطفٰی د اظهار د پاره د نعتیه شاعرۍ لار اختیار کړه. د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ نعتیه کلام په نوم د "**حَدائقِ بخشِش**" د نعتیه شاعرۍ یوه عظیمه مجموعه ده. د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ لیکلے شوے یو یو شعر د شریعت عین مطابق دے.

## مناظرِ کائنات او حدائقِ بخشش

که مونږه غور اوکړو نو پوهه به شو چه دا کائنات د ښکلو او ښائسته نظارو نه ډك دے، دے نظارو ته هر یو په خپل خپل نُقطهٔ نظر ګوري، سائنسدان ورته د سائنس په رنړا کښے ګوري، جُغرافیه دان ورته د خپل علم په رنړا کښے ګوري، کمسټري والا

ورته د علمِ کمسترئ په رنړا کښے ګوري، او ولے چه اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِ تعالٰی عَلَیْہ یو پوخ عاشقِ رسول وو ځکه هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ دے ټولو نظارو ته د عشقِ رسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په رنړا کښے کتل او په ذِهن کښے راتلونکي خیالات به ئے د نـعتیه شاعرئ په صورت کښے بیانول. هغوئي په خپل نـعتیه کلام **"حدائقِ بخشش شریف"** کښے د قدرت په ډیرو نظارو باندے د عشقِ رسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ډك عِشقي رنګ کښے د خلقو د پوهه کولو کوشش کړے دے. په دے مناظرو کښے یو منظر د لمَر سترګه هم ده. هم دا د لمَر سترګه ده چه د زرګاؤ کلونو نه ټول جهان په خپل نور روښانه کوي او ځلوي خو د دے نور نه کمیږي. هم دا د لمَر سترګه ده چه هره ورځ راخیژي او رنړاګانے تقسیموي. هم دا د لمَر سترګه ده چه د دے په راختلو او پریوتلو د دُنیا نظام روان دے، د لمَر دے سترګے ته په کائنات کښے مرکزي حیثیت حاصل دے.

د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُاللہِ تعالٰی عَلَیْہ د عشق په کتاب کښے دا د لمَر سترګه څه حیثیت لري؟ چه کله د سرکارِ دو عالَم نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جُود و سخاوت خبره روانه وه نو فرمائي:

**جس کو قُرصِ مہر سمجھا ہے جہاں اے مُنْعِمُو!**
**اُن کے خوانِ جُود سے ہے ایک نانِ سوختہ**
**(حدائقِ بخشش، ص۱۳۶)**

یعني اے تاجدارانو! اے بادشاهانو! ټول جهان چه ورته د لمَر سترګه وائي، څوك ورته آفتاب وائي، دا د لمَر سترګه خو د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دسترخوان یوه سوزیدلي ډوډئ ده.

یعني لږ غور اوکړئ چه د کوم کریم آقا مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دسترخوان سوزیدلي ډوډۍ باندے د کائنات گزاره روانه ده نو د هغوئي د دسترخوان هغه ډوډۍ چه د سوزیدلو نه محفوظه دي د هغے به څه حال وي؟ او د کوم محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دسترخوان سوزیدلي ډوډۍ چه سترگے بریښوي نو د هغوئی د خپل مخ مبارك د انوارو به څه عالَم وي؟ یو شاعر څه ښه وئیلي دي:

قدموں میں جبیں کو رہنے دو　　چہرے کا تصوّر مشکل ہے
جب چاند سے بڑھ کر ایڑی ہے　　تو رُخسار کا عالَم کیا ہوگا

[یعني بس د خوږ نبي مُحَمَّد مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښپو مبارکو ته گورئ د هغوئي د مخ مبارك تصوّر مشکل دے]

ځکه چه د سپوږمۍ نه زیاتے روښانه د هغوئي پُوندے مبارکے دي نو د مخ مبارك د انوارو به ئے څه عالَم وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## سپوږمۍ او تخیلاتِ رضا

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ د شاعرۍ او د هغوئي د عشقِ رسول متعلق بیان اوریدلو. د سپوږمۍ ذِکر هُم په شعر و شاعرۍ کښے ځائے په ځائے شوے دے. د محبوب حُسن، د محبوب ښائست، او د محبوب رنگ ته سپوږمۍ سره تشبیه ورکول په اُردو شاعرۍ کښے ډیر عام دي. خو څنګه چه اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ سپوږمۍ د نَعتِ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره استعمال کړي ده د

هغے مثال نشته، راځئ! چه د دے یو څو مثالونه واورو:

(۱) عمومًا شاعران حضرات د سپوږمۍ د حُسن خبرے خو کوي خو د هغے داغونه نه بیانوي، اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ د عشق په رنګ کښے بیان کړي دي چه په سپوږمۍ کښے داغونه ولے دي؟ چنانچه فرمائي:

برقِ اَنگُشتِ نبی چمکی تھی اُس پر ایک بار
آج تک ہے سِینۂ مہ میں نشانِ سوختہ
(حدائقِ بخشش، ص۱۳۶)

یعني د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارك لاس د یوے نوراني ګوتے یو ځرك یو ځل په سپوږمۍ شوے وو نو د سپوږمۍ په سینه باندے د سوزیدلو هغه نښه نن هُم موجوده ده،

(۲) بیا په یو بل شعر کښے سپوږمۍ ته د داغ ختمولو طریقه هم ښائي، چنانچه د معراج شریف په بیان کښے فرمائي:

سِتَم کِیا کیسی مَت کٹی تھی قمر! وہ خاک اُن کے رہ گُزر کی
اُٹھا نہ لایا کہ مَلتے مَلتے یہ داغ سب دیکھتا مٹے تھے
(حدائقِ بخشش، ص۲۳۲)

یعني اے سپوږمۍ! ستا عقل چرته تلے وو چه په ځان دِ دومره ظلم اوکړو چه کله د معراج په شپه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د آسمانونو سیل کولو د پاره تشریف راوړے وو نو د هغوئي د لارے خاوره به دِ راخستي وے او په خپلو داغونو به دِ مږلے وے. د هغه

خاورو لګولو سربه سمدستي ستا ټول داغونه ختم شوي وے.

(۳) په يو بل ځائ کښے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ تعالیٰ عَلَيْه دا سپوږمئ د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وړوکوالي کهلونا [يعني د لوبيدلو څيز] قرار کړے دے چه په هغے کښے دغه حديث شريف طرف ته اشاره ده چه،

حضرت عباس رَضِيَ اللهُ تعالیٰ عَنْه فرمائي: ما عرض اوکړو: يارسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته خو ستاسو د نَبُوَّت نښو دينِ اسلام کښے د داخليدلو دعوت را کړے وو. ما ليدلي وو چه تاسو په ځانګو کښے د سپوږمئ سره خبرے کولے او پخپله ګوته مو چه کوم طرف ته اشاره کوله، سپوږمئ به هغه طرف ته تلله. (جمع الجوامع، ۲۱۲/۳، حديث:۸۳۶۱) په دے وجه اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ تعالیٰ عَلَيْه فرمائي:

چاند جھک جاتا جِدھر اُنگلی اٹھاتے مَہد میں
کیا ہی چلتا تھا اشاروں پر کھلونا نور کا
(حدائقِ بخشش، ص۲۴۹)

[يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه خپل مبارک ماشوموالي کښے په ځانګو کښے سپوږمئ ته کتل او په ګوته مبارکه به ئے ورته کوم طرف ته اشاره کوله نو سپوږمئ به هُم هغه طرف ته تلله.

(٤)يو بل ځائے کښے فرمائي:

ماہِ مَدینہ اپنی تَجَلِّی عطا کرے!
یہ ڈھلتی چاندنی تو پہر دو پہر کی ہے
(حدائقِ بخشش، ص۲۰۲)

یعنی یوه د آسمان سپوږمۍ ده او یوه د مدینے منورے سپوږمۍ ده. د آسمان سپوږمۍ هم رنړا خوروي او د مدینے منورے سپوږمۍ هم نُور تقسیموي، د آسمانونو سپوږمۍ چه کومه رنړا خوروي هغه د یو څو ساعتو پورے وي او د مدینے منورے سپوږمۍ که چا ته د نُور یو څرك هم ورکړي نو د هغه دُنیا او آخرت دواړه پرے روښانه شی. ځکه په یو بل مقام کښے د نُور خیرات داسے غواړي:

چمک تجھ سے پاتے ہیں سب پانے والے
مِرا دِل بھی چمکا دے چمکانے والے
(حدائقِ بخشش،ص۱۵۸)

یعني یارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چه د چا زړه هم روښانه دے هغه ستاسو د نُور په بَرَکت روښانه دے، یارَسُولَ الله زما زړه هُم روښانه کړۍ.

## د څوارلسمے سپوږمۍ او د مدینے سپوږمۍ

(٥) په یو بل ځائے کښے فرمائي چه سپوږمۍ او لمَر خو د آقا کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي روښانه مخ مبارك په وړاندے هیڅ حیثیت نه لري، چنانچه فرمائي:

خُورشید تھا کِس زور پر کیا بڑھ کے چمکا تھا قمر
بے پردہ جب وہ رُخ ہوا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں
(حدائقِ بخشش،ص۱۱۰)

یعني چه رسا د غرمے په وخت کښے لمَر په خپل عُرُوج وي او یا د شپے سپوږمۍ په خپله انتها وي او ډیره زیاته ځلیږي، په دے کښے خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ښکلے نوراني مخ د پردے نه راښکاره کړي نو لمَر به هم شرمیږي او سپوږمۍ به هم مخ اړوي او سترګے به پټوي ځکه چه زما د خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان بل هیڅ څوك نشته. په دے کښے دے حدیثِ پاك طرف ته اشاره هم ده چه حضرت جابر بن سَمُره رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْه فرمائی: یو ځل ما رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په داسے شپه چه د سپوږمۍ رنړا ښه خوره وه، د کرښو والا سره جُبه مبارکه اغوستلے اولیدلو، ما به کله سپوږمۍ طرف ته کتل او کله به مے د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ مبارك ته کتل، نو ما ته د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارك د سپوږمۍ نه زیات ښائسته ښکاریدلو. (ترمذی، کتاب الأدب، باب ماجاء فی الرخصة فی لبس۔۔۔الخ، ۴/۳۷۰، حدیث:۲۸۲۰)

حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللہِ تعالٰی عَلَیْه د دے حدیثِ پاك په شرح کښے فرمائي: د صحابه کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان سترګو به حقیقت لیدلو او پیژندلو. ☆ په ډیرو وجوهاتو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ مبارك د سپوږمۍ نه هم زیات ښائسته دے. ☆ سپوږمۍ صرف د شپے پړقیږي او د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارك شپه او ورځ ځلیږي. ☆ سپوږمۍ صرف درے شپے [یعني په دیارلسمه څوارلسمه او پینځلسمه شپه] (په خپله انتها) پړقیږي او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ مبارك همیشه هره ورځ او هره شپه ځلیږي. ☆ د سپوږمۍ رنړا صرف په اَجسامو (یعني بدنونو) باندے لګي او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور بدنونو سره سره زړونه هم روښانه کوي. ☆ سپوږمۍ کله وَړه شي او کله غټه خو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

نوراني مخ مبارك د دے نه محفوظ دے. ☆ سپوږمۍ تندر نيسي خو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ مبارك د دے خيزونو نه محفوظه دے. ☆ سپوږمۍ سره د عالَمِ اَجسام [يعني د دُنيا والؤ] نظام قائم دے خو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ مبارك سره د عالَمِ اِيمان نظام قائم دے.(مرآۃ المناجیح،۸/۶۰ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

امیرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ خپل مايه ناز تصنِيف "کُفریہ کلمات کے بارے میں سوال" کښے ليکي: د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د ارشاداتو خُلاصه ده چه د جاهلانو نعت ليکونکو شاعرانو کلام [يعني شاعري] بعضے وخت د کُفرياتو نه ډکه وي لِهذا داسے شاعري لوستونکي محفلِ نعت ته راغوښتل هُم ناجائزه دي، داسے نعت خوانۍ ته څوك ليږل هُم حرام دي او داسے کلام [يعني شاعري] اوريدل هم گناه ده.

(کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص۲۳۴)

د دے نه علاوه سيپاره 19 سُوْرَۃُالشُّعَراء کښے اِرشاد کيږي:

وَ الشُّعَرَآءُ یَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَؕ(۲۲۴) اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِیْ كُلِّ وَادٍ یَّهِیْمُوْنَۙ(۲۲۵) وَ اَنَّهُمْ یَقُوْلُوْنَ مَا لَا یَفْعَلُوْنَۙ(۲۲۶) (پ۱۹، الشعراء: ۲۲۴تا۲۲۶)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د شاعرانو پيروي گُمراه خلق کوي، آيا تا نه دي ليدلي چه هغوئي په هره کنده کښے سرگردانه گرځي. او هغه وائي، څه چه نه کوي.

د دے آیتِ مبارکه نه لاندے تفسِیر صِراطُ الْجِنان کښے لیکي دي چه د شاعرانو دروغژن او باطل شعرونه لیکل، هغه وئیل، نورو ته اوروول او هغه په معاشره کښے رائج کول د ګُمراه خلقو کار دے، د دے نه هغه خلقو ته نصیحت حاصلول پکار دي څوك چه داسے شعرونه لیکي چه په هغے کښے د **الله** پاك او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم توهین [یعني بے اَدَبي]، دِينِ اسلام او قرآن پورے د ټوقو کولو او د **الله** پاك بارګاه کښے د مُقَرَّبو بندګانو [یعني د نبیانو او بزرګانو] په شان کښے د ګُستاخئ کَلِمات وي، هم دغسے بے حیائي، عُریاني او فحاشي باندے مُشتَمله د دے نه علاوه د ښځو او سړو نفساني جذبات رابیدارولو والا الفاظو باندے مشتمله شاعري کوي او د دے سره سره دِ د دے نه هغه خلق هم نصیحت حاصل کړي څوك چه د دوئي بیهوده شاعري اوري، لوَلي او نورو ته ئے اوروي. (تفسیر صراط الجنان، ۷/۱۷۱)

## د چا کلام [یعني شعرونه] لوستل پکار دي

امیرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي چه د کلام [یعني شعر] صحیح اندازه لګول چه دا د شریعت مطابق دي او که نه، دا صلاحیت هر سړے نه لري، لِهذا خیر په هُم دے کښے دے چه صرف د مُستَنَد عُلَمائے اَهلِسُنَّت کلام اوریدل او لوستل پکار دي، د اُردو کلام د پاره مشورةً عرض کووم [چه د دے عُلَمائے کرامو کلام لولئ او اورئ] (1) امامِ اهلسنّت ، مولانا شاه امام احمد رضاخان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (2) اُستاذِ زَمَن حضرت مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (3) خلیفۂ اعلیٰ حضرت مَدّاحُ الحبیب حضرت مولانا جمیل الرحمٰن رَضَوی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (4)

شهزادۀ اعلیٰ حضرت،تاجدارِ اهلسنّت حُضور مفتئ اعظم هِند مولانا مصطَفٰے رضا خان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ (5) شهزادۀ اعلیٰ حضرت ،حُجَّۃُ الاسْلام حضرتِ مولانا حامد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ (6) خليفۀ اعلیٰ حضرت صدرُ الافاضِل حضرتِ علامہ مولانا سیِّد محمد نعیم الدّین مُراد آبادی رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ، (7) حکیمُ الْاُمَّت حضر تِ مفتی احمد یار خان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ وغیره. نور فرمائي که د يو غيرِ عالِم شاعِر کلام لوستل يا اوريدل غواړئ نو د يو ماهِرِ فَن سُنِّي عالِم نه مخکښے د هغه کلام تصديق اوکړئ. دغسے به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د ايمان د حفاظت د پاره مدد حاصليږي. (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص۲۳۸،۲۳۷)

## دولسو مدني کارونو کښے يو مدني کار "قافِله"

اَلْحَمْدُ لِلّٰه د الله په لار کښے سفر کوونکو قافلو کښے د سفر په بَرَکت د ډيرو خلقو په ژوند کښے مدني انقلاب راغلے دے. ☆ قافلو کښے سفر کولو سره د نيکو خلقو صُحبت حاصليږي. ☆ قافله کښے د سفر کولو په برکت په جُمات کښے د نفلي اعتکاف کولو ثواب نصيب کيږی. ☆ قافله کښے د سفر کولو په برکت بيلمانځه خلقو ته د لمانځه اهميت معلوم شي. ☆ قافله کښے د سفر کولو په برکت د ډير دِيني مسائلو زده کولو سعادت نصيب کيږي. ☆ قافله کښے د سفر کولو په برکت په جماتونو کښے د ذِکر و اَذکار، درس و بيان سلسله جاري شي. ☆ قافله کښے د سفر کولو په برکت جماتونه آباديږي. ☆ او د جماتونو آبادولو به څه وائے! حديثِ پاك کښے دي: چه کله يو بنده د ذِکر و عبادت د پاره جُمات خپل ځائے جوړ کړي نو الله پاك د

هغه نه داسے خوشحالیږي لکه خلق چه د خپل ورك شوي كس خپل كور ته راتلو باندے خوشحالیږي. (ابن ماجه، کتاب المساجد... الخ، باب لزوم المساجد... الخ، ۱/۴۳۸، حدیث:۸۰۰)

راځئ چه د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د مدني قافلے په برکت ئے روزګار پیدا شو

د ملتان (پنجاب، پاکستان) اوسیدونکي د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه هغه د ډیرے مودے نه د کار روزګار په سلسله کښے پریشانه وو په ډیرو ځائیونو کښے ئے انټرویو هم ورکړي وه خو څه جواب نه راتلو. په دے دوران کښے د هغه خوش قِسمتي وه چه د هغه ملاقات د دعوتِ اسلامي یو اسلامي ورور سره اوشو، هغوئي ورته تسلي ورکړه او ورته ئے اووئیل چه وروره! خفه مه کیږه، تاسو د دعوتِ اسلامي په قافِله کښے سفر اوکړئ، هلته د بیروزګارئ نه د خلاصي دُعا اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه کرم به اوشي. څه ورځے پس ئے په یوه کمپنئ کښے انټرویو وه، هغه اراده اوکړه چه د انټرویو نه پس به د درے ورځو په قافله کښے سفر کووم. د انټرویو نه پس د مدني قافلے مسافر جوړ شو. د مدني قافِلے په دویمه ورځ ورته خبر راغے چه تاسو په انټرویو کښے کامیاب شوي ئے، چنانچه د قافله پوره کیدو نه پس چه کله کور ته راغے نو یو څو ورځے پس ورته د هغه کمپنئ له طرفه خط هم راغے. دغسے اَلْحَمْدُ لِلّٰه د قافلے په برکت د هغه روزګار پیدا شو.

اُوګټئ ډیر رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ     زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ

کـه ډیر غواړئ برکـتونه قافلو کښې لاړ شئ　　کړئ حاصل به عظمتونه قافلو کښې لاړ شئ

حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړشئ　　شي به لرے آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

اُوګټئ ډیر رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ　　زده کړئ ښکلي سُنّتونه قافِلو کښې لاړ شئ

صَــلُّــوْا عَــلَی الْــحَــبِـیْـب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اعلیٰ حضرت عشقِ رسول

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په دے کښے هیڅ شك نشته چه اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ تعالٰی عَلَیۡہ ته په شاعرئ کښے کوم مقام حاصل دے د هغے مثال نه پیدا کیږي. یقیناً د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تعالٰی عَلَیۡہ لیکلي کلام ته د خوږ نبـی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښے هم قبولیت حاصل دے. راځئ چه داسے یوه واقعه واورو: چنانچه اعلیٰ حضرت، امام اَهلِسُنَّت شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ تعالٰی عَلَیۡہ چه کله په دویم ځل حج له لاړو نو په مدینهٔ مُنَوَّره کښے د نبیِٔ رحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِیدار کولو په ارمان کښے د روضے مُبارکے مخے ته اودریدلو او د ډیر ساعته پورے ئے صلوٰةُ و سلام وئیلو خو په اوله شپه ئے په قسمت کښے دا سعادت نه وو. په دغه وخت کښے ئے خپل مشهور نعتیه غزل اولیکلو چه د هغے په مطلع کښې ئے د رحمت د لـمنے سره د نزدیکت اُمید ښکاره کړے دے ؎

وہ سُوئے لالہ زار پھرتے ہیں　　تیرے دن اے بہار پھرتے ہیں

**د شعر وضاحت:** اے سپرلیه خوشحاله شه! په تا د سپرلو سپرلے راروان دے.هغه اوګوره! دمدینے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګلزار طرف ته تشریف راوړي!

او په مقطع کښے په بارګاهِ رِسالت کښ د خپلے عاجزئ او مِسکینئ نقشه څه داسے پیش کوي. ؎

کوئی کیوں پوچھے تیری بات رضاؔ    تجھ سے شَیدا ہزار پھرتے ہیں

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په دویمه مِصرع کښے د عاجزئ په طور د ځان د پاره د [کُتّے یعني د] سپي لفظ استعمال کړے دے خو دلته ادباً **شیدا** لیکلے شوے دے (چه د هغے مطلب دے عاشق)

**د شعر وضاحت:** په دے مقطع کښے عاشقِ رِسالت اعلیٰ حضرت خپله ډیره عاجزي ښکاره کړي ده او ځان ته وائي چه اے احمد رضا! ته څه ئے او ستا حقیقت څه دے؟ ستا په شان په زرګاؤ سګانِ مدینه په کوڅو کښے ګرځي! دا غزل ئے پیش کړو او د دیدار په انتظار په ادب کیناستلو نو قسمت ئے رابیدار شو او د سر په سترګو ئے په ویښه د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِیدار شَرف حاصل کړو. (ایضاًص۹۲)[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ د زیارتِ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دے واقعے نه مونږ ته دا درس حاصل شو چه مونږه هم رښتیني عاشقانِ رَسُول جوړ شو، په دے به زمونږه دُنیا هُم ښه شي او آخرت به مو هُم ښه شي. په دے کښے هیڅ شك نشته چه څوك رښتینے عاشقِ رَسُول وي هغه به د هر هغه کار نه ځان ساتي د کوم کار نه چه شریعت د بچ کیدلو تقاضه کوي. ۞ **څوك چه رښتینے عاشقِ رَسُول وي هغه** به ځان د عِشقِ مجازي نه ساتي. ۞ **څوك چه رښتینے عاشقِ رَسُول وي هغه** به د رَسُولُ

1 . . . تذکرۂ امام احمد رضا، ص۱۱تا۱۲ملخصًا

الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِرشاداتو مطابق ژوند تيروي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به لمونځ نه قضا کوي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به دروغ او غِيبت نه کوي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به فرض روژه بِلا عُذرِ شرعي نه خوري ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم د مور و پلار زړه نه ازاروي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم ګاونډيانو ته تکليف نه ورکوي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم د خپلوانو سره قطعِ تَعَلُّقي نه کوي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم د بل حق نه خوري ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم د چا بے عزتي نه کوي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم د حرام مال په طرف نه ځي ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هم شرابو [او نورو نشو] ته نزدے هُم نه ورځي. ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به بد صُحبت کښے نه کښيني ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به کله هُم بد نظري نه کوي الغرض ۞ **ځوك چه رښتينے عاشقِ رَسُول وي هغه** به د هر هغه کار نه ځان ساتي د کوم کار نه چه شريعت منع کړي ده. او اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هر رښتيني عاشقِ رسول عشقِ رَسُول به په ورځ د قيامت هغه د جَهنَّم نه بچ کړي او جَنَّت ته به ئے داخل کړي.

## مکتوب عَطّار

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ د سګِ مدينه محمد الياس عطار قاری رضوی عُفِیَ عَنۡہُ د طرف نه د ټولو عاشقانِ رسول اسلامي ورونړو او خويندو په خدمت کښې د جَشنِ وِلادت په

خوشحالئ کښې لګیدلو شنو شنو جنډو، روښانه غټو او وړو وړو بلپونو ښکلے کړے شوے د شهدو نه خوږ مکّی مَدَنی سلام-

اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَۃُ اللّٰہِ وَبَرَکَاتُہٗ ، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ عَلٰی کُلِّ حَال

تم بھی کر کے اُن کا چرچا اپنے دِل چمکاؤ اونچے میں اونچا نبی کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

(1) دَ میاشتے په اولنئ شپه درے ځله په دے الفاظو سره په جماتونو کښے اعلان اوکړئ "ټولو اسلامی ورونړو او خویندو ته دِ مبارک وي دَ ربیع الاول میاشت ښکاره شوه.

ربیعُ النُّور اُمّیدوں کی دنیا ساتھ لے آیا دعاؤں کی قبولیَّت کو ہاتھوں ہاتھ لے آیا

(2) دَ سړی ګیره خرئیل یا دَ یو موټي نه کمول دواړه حرام دي- او دَ اسلامی خور بے پردګی حرامه ده- براه کرم دَ ربیع الاول شریف په برکت دِ اسلامی ورونړه همیشه دَ پاره یو موټے ګیره پریږدي. او اسلامی خویندے دِ مستقل شَرعی پرده اختیار کړي، (دَ سړی ګیره خرئیل یا دَ یو موټی نه کمول او دَ ښځو بے پردګی کول حرام دي او زر تر زره د دغه ګناهونو نه توبه کول واجب دی)-

جُھک گیا کعبہ سبھی بُت منہ کے بل اَوندھے گرے

دَبد بہ آمد کا تھا، اَھۡلًا وَّ سَھۡلًا مرحبا (وسائلِ بخشش ص۲۵۷)

(3) په سنتو او نیکو باندے دَ استقامت دَ پاره لویه مدنی نسخه دا ده چه ټول عاشقانِ رسول اسلامی ورونړه او خویندے دِ روزانه غور و فِکر [یعني د خپلو اعمالو محاسَبه]

کوي، دَ مدنی انعاماتو رساله دِ ډکوي او هره میاشت دَ جمع کولو نیت دِ اوکړی. لاس اوچت کړئ اَو اووائے اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ.

بدلیاں رَحمت کی چھائیں بُوندیاں رَحمت کی آئیں

اب مُرادیں دل کی پائیں آمدِ شاہِ عَرَب ہے (قبالۂ بخشش ص۱۸۴)

(4) ټول عاشقانِ رسول سره دَ نګران او ذمه دارانو په ربیع الاول شریف کښې خصوصی طور کم از کم درے ورځے په مدنی قافلو کښے دَ سفر سعادت حاصل کړئ او اسلامی خویندے دي دیرش ورځے په کور کښے دننه دَ کور اسلامی خویندو او مَحرَمو سره ته درسِ فیضان سنت ورکوي- او آئنده دَ پاره د جاری ساتلو نیت اوکړئ-

سعادت ملے درسِ فیضانِ سُنّت کی روزانہ دو مرتبہ یاالٰہی!

(وسائلِ بخشش مُرمّم، ص۱۰۳)

(5) خپل جمات، کور، دُکان، کارخانه وغیره باندے 12 یا کم از کم یوه شنه جھنډه دَ ربیع الاول شریف دَ میاشت لیدلو نه تر اَخِیره پورے اولګوئ، په بسونو، ویګنو، ټرکونو، ټرالو، ټکسیانو، رکشو، ریړو، ټانګو وغیره باندے دَ خپل طرف نه جھنډے واخلئ اَو اولګوئ، خپل سائیکل، سکوټر او موټر باندے ئے هم اولګوئ، اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ هر طرف ته به دَ شنو جھنډو یو ښکلے سپرلے ښکاري. عموماً دَ ټرکونو شا طرف ته دَ ساه لرونکي ځیزونو غټ غټ تصویرونه جوړ وي او فضول شعرونه پرے لیکلي شوي وي زما دا خواهش دے چه دَ ټرکونو، بسونو، رکشو، ټکسیانو، سوزوکو او موټرو وغیره شاته په واضحه الفاظو دالیکلے شوي وي **"مجھے دعوت اسلامی سے پیار ھے"** یعني **"زه دعوتِ اسلامی سره مینه لرم"** دَ بسونو مالکانو او ټرانسپورټ والو سره میلاؤ شئ او د دے ترکیب

جوړ کړئ او دَ سگ مدینه عُفِيَ عَنْهُ دَ زړه دُعا ګانے واخلئ.

**ضروری احتیاط**:که په جهنډه دَ نعلین پاک نقشه وي یا څه نور لیک وي نو دَ دے خبرے خیال ساتئ چه په زمکه اونه غورزیږی. بله داچه ځنګه دَ ر بیع الاول شریف میاشت ختمه شي نو فوراً ئے لرے کړئ که احتیاط نه شئ کولے او بے ادبی کیږی نو بیا بغیر دَ نقش او لیک ساده مَدَني جهنډا اولګوئ. سګ مدینه عُفِيَ عَنْهُ هم دَ خپل وس مطابق په خپل بے نشانه کور چه نوم ئے بیت الفنا دے، ساده جهنډه لګوي.

نبی کا جھنڈا لیکر نکلو دنیا پر چھا جاؤ نبی کا جھنڈا امن کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

صَلُّوا عَلَی الحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(6) خپل کور په دولسو لړو یا کم نه کم په دولسو بلپونو او جماعت او کوڅے هم 12 ورځے په رنړا کړئ (خو د دے دپاره دَ بجلئ غلا کول حرام دي په دے وجه د متعلقه ادارے سره جائز ترکیب جوړ کړئ)- دَ ټولے علاقے نه په شنو شنو جهنډو او رنګارنګ بلبونو لګولو ناوے جوړه کړئ- دَ جمات، دکور په چهت، چوک وغیره باندے خو چه په لاره تیریدونکو او سورلو ته تکلیف او نه رسي او حقوق عامه ضائع نه شي. په هوا کښې 12میټره یا دَ ضرورت مطابق دَ غټ سائز جهنډه زوړنده کړئ. دَ سړک په مینځ کښے جهنډه مه لګوئ ځکه چه د دے سره دَ ټریفک نظام خرابیږی. هم دا شان په کوڅے وغیره یو ځائے داسے سنګار مه کوئ چه په هغے دَ مسلمانانو لار تنګیږي او دَ خلقو حقوق ضائع کیږی او دے سره دَ هغوی زړونو ته تکلیف رسے-

ایک مشرِق، ایک مغرِب، ایک بامِ کعبہ پر

نَصب پرچم ہو گیا، اَھْلًاوَّ سَھْلًا مرحبا (وسائلِ بخشش ص۴۵۳)

(7)هر اسلامی وررور دِ دَ وس مطابق زیاتے یا کم نه کم د 12روپو دَ مکتبة المدینه چاپ شوي رسالے او دَ مدنی ګلونو پرچۍ په جُلوسِ میلاد کښے تقسیم کړي او اسلامے خویندے دِ ئے هم تقسیم کړي. هم داسے ټول کال په خپل دکان وغیره کښے دَ کتابچو دَ تقسیمولو اهتمام کوئ او دَ نیکۍ په دعوت کښے حصه اخلئ. دَ واده په پروګرامونو کښے یا د غم په موقع دَ مړو د ثواب دَ پاره رسالے تقسیمول پکار دي او نورو مسلمانانو له هم ترغیب ورکول پکار دي.

بانٹ کر مَدَنی رسائل دین کو پھیلایئے کر کے راضی حق کو حقدارِ جناں بن جایئے

(8) دَ سګ مدینه لیکلے شوي پمپلټ (پرچي) "د جشنِ ولادت 12مدنی ګلونه او که ممکنه وی نو 112 یا کمے نه کمے 12 پرچۍ او که وس لرئ نو رساله صبحِ بهاراں (دَ سپرلی سحر) 12 عدده دَمکتبة المدینه نه په پیسو واخلئ او تقسیم ئے کړئ. خصوصاً دَ هغه تنظیمونو مشرانو ته ئے اورسوئ ځوک چه دَجشن ولادت خوشحالئ کوي. په ربیع الاول شریف 1200روپئ که دا نه وي نو 112روپئ او که دا هم نه وي نو12 روپئ بالغ کسان دِ یو سنی عالم ته ورکړي- که دَ خپل جمات امام ، مؤذن یا خادم له ئے ورکړی دا هم صحیح ده- خو دَ دے خدمت دِ هره میاشت نیت اوکړی نو مدینه مدینه. که دَ جُمَعے په ورځ ئے ورکړي نو د ا به غوره وي ځکه چه دَ جُمَعے په ورځ دَ هرے نیکۍ ثواب یو په اویا میلاویږی- اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ سنتو ډک دَ بیانونو میموري کارډونه اوریدلو سره دَ خلقو

دَ اصلاح خبرونه راغلي دي. په تاسو کښے به هم څه نه څه داسے خوش قسمته وي چه دَ بیان اوریدو سره به مدني ماحول ته راغلي وي په دے وجه داسے میموري کارډونه خلقو ته ورکول [او د دعوتِ اسلامي د سوشل میډیا د پاره جوړ شوي وِیډیو کلِپونه شیئر کول] دَ دین خدمت او ډیر زیات ثواب دے.

اُنکے در پے پلنے والا اپنا آپ جواب کوئی غریب نواز تو کوئی داتا لگتا ہے

(9) په غټو ښارونو کښے هر علاقائی نګران (دَکلي ذمه داران دِ په کلو کښے) 12 ورځو پورے هره ورځ په جماتونو کښے عظیم الشان دَ سنتو نه ډک اجتماعات مقرر کړي. (ذمه دارے اسلامي خویندے دِ په کورونو کښے اجتماعات مقرر کړي). په ربیع الاول شریف کښے په ټولو اجتماعاتو کښے که کیدے شي نو ټوله میاشت دَ ځان سره مَدَني جهنډه راوړئ-

لب پر نعتِ رسولِ اکرم ہاتھوں میں پرچم دیوانہ سرکار کا کتنا پیارا لگتا ہے

(10) د یوولسمے په ماښام یا د دولسمے په شپه غسل اوکړئ که کیدے شي نو دَ اخترونو په اختر کښے دَ تعظیم په نیت نوے جامے، عمامه، سر بند (یعني دَ سر رومال)، ټوپئ، څادر، مسواک، دَ جیب رومال، چپلے یا (څپلئ) تسبیح، دَ عطرو شیشه، دَ لاس ګھړئ، قلم، قافله پیډ وغیره دَ استعمال څیزونه که کولے شئ نو واخلئ. (اسلامی خویندے هم دَ خپل ضرورت مطابق څیزونه که کولے شئ نو واخلئ)

آئی نئی حکومت سکّہ نیا چلے گا

عالَم نے رنگ بدلا صبحِ شبِ وِلادت (ذوقِ نعت ص ۶۷)

(11) دولسمه شپه په اجتماعِ میلاد کښے تِیره کړئ او دَ صبا صادق په وخت کښے مَدَني جهنډے په لاسونو کښے اونیسئ او درود سلام سره په لمدو سترګو د سپرلی دَ سحر استقبال اوکړئ. دَ سحر دَ مونځ نه پس سلام او د اختر مبارکي اوکړئ هر یو دَ بل سره په ښه ګرم جوشئ سره میلاؤ شئ او ټوله ورځ یو بل ته د اختر مبارکي ورکوئ -

عیدِ میلادُ النّبی تو عید کی بھی عید ہے

بالیقیں ہے عیدِ عید اں عیدِ میلادُ النّبی (وسائلِ بخشش ص۴۶۵)

(12) زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ګل په ورځ روژه نیوله او دَخپل یومِ ولادت خوشحالي به ئے کوله. تاسو هم په یادِ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښے په دولسم ربیع الاول شریف روژه اونیسئ او مَدَني جهنډه اوچته کړئ او جلوس میلاد کښے شامل شئ. تر څو پورے چه کیدے شي نو په اوداسه کښېِ اوسئ، په ژبه درود و سلام او نعتونه جاري ساتئ. سترګے ښکته ساتئ او ډیر دَ وقار نه ډکه طریقه باندے ځئ. په ټوپونو وهلو او مسخرو کولو چا ته د اعتراض موقع مه ورکوئ.

ربیعُ الاوّل تجھ پر اہلسنّت کیوں نہ ہوں قرباں

کہ تیری بارھویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا (قبالہ بخشش ص۳۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښے د نوم ایښودلو د یو څو نکاتو بیانولو سعادت حاصلووم.

## د نوم ایښودلو یو څو نکات

اول دوه فرامینِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ: چنانچه (۱) خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د قیامت په ورځ به تاسو د خپل او د خپل پلارانو په نومونو سره رابللے کیږئ، لِهٰذا خپل نومونه ښه کړدئ. (ابو داود، کتاب الادب باب فی تغییر الاسماء، ۴/۳۷۴، حدیث: ۴۹۴۸) (۲) خوږ مدنی آقا ارشاد فرمائي: د انبیاء عَلَیْہِمُ السَّلَام په نومونو نوم کړدئ. (ابوداود، کتاب الادب باب فی تغییر الاسماء، ۴/۳۷۴، حدیث: ۴۹۵۰) [اوس نور نکات واورئ] ☆ د ماشوم کُنیت کیښودل جائز دي او د برکت حاصلولو لپاره د بزرګانو په نسبت کُنیت ایښودل بهتر دي. مثلاً ابو تُراب (دا د حضرت عَلِیُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ کُنیت دے) وغیره (بهارِ شریعت، ۳/۲۱۳) ☆ عبدُالمُصطفٰی، عبدُالنبـي، عبدُالرسول نوم ایښودل بالکل جائز دي ځکه چه د دے نه د نسبت شرف حاصلول مقصود دي. د عبد دوه معنے دي بنده او غلام، ځکه په داسے نوم ایښودلو کښے هیڅ باك نشته. غلام محمد، غلام صدیق، غلام فاروق، غلام علی، غلام حسین وغیره نومونه ایښودل چه په هغے کښے د غلام نسبت انبیاؤ او صالحینو طرف ته شوے وي، بالکل جائز دي. (بهارِ شریعت، ۳/۲۱۳ ماخوذا) ☆ طٰـهٰ، یٰـسین نوم مه کړدئ، دا الفاظِ مُقَطَّعاتِ قُرآنیه دي او د دے معنے معلومے نه دي. (بهارِ شریعت، ۳/۲۱۳) ☆ کوم نومونه چه بد یا خراب وي هغه دِ بدل کړے شي او ښه نومونه دِ کیښودے شي. (بهارِ شریعت، ۳/۲۱۳)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو

کتاب ''بهارِشريعت'' حصّه ١٦ او (٢) د 120 صفحو کتاب ''سُنّتیں اور آداب'' هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښے عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلکيانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بيان موضوع به وي ''**فيضانِ ربيعُ الاول**'' لِهٰذا د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره راروان زيارت له هُم اجتماع کښے د حاضرئ نِيَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوکړئ. لاس اوچت کړئ او په زوره اُووائے. اِنْ شَآءَالله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاگانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښے د داخلیدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځۍ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

## اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه تاجدارِمدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښے او که ناست وو نو اودریدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

## صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځۍ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُم حیران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[2] راځئ چه مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

**جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکۍ ليکي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵